مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۱۰/۲۰

# د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

## څلورم ټوک، مزار شریف
## او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

یوسلو څلورشپېتمه برخه
تصحیحات:
ډاکټر لودویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

**جن دره:** ۱۵ – ۳۶، ۱۵ – ۶۸: دا یوه اوږده تنگه دره ده چې په سویل ختیځ لوري باندې راکوزیږي، دا دره د بابولر له غرنۍ لړۍ څخه د سای بولدي پر اوږدې تنگې درې راکوزیږي. له رباط څخه تر غزنیگک پورې لاره جن درې ته راځي او د جن درې له سره د دوه کوه کوتل ته ځي. (ای. بي. سي.) *بره د ایبکو د ختیځ په نیږدې ۲۰ مایلۍ کې ده.*
**جرغان:** ۵۵ – ۳۵، ۵۶ – ۶۵ (ن): دا د سرپل د آستراب د علاقه دارۍ یو اداري ویش دی. لوی جرغان د سرپل له سویل څخه د عامي لارې له لارې ۴۳ مایله واټن لري او د ۷۰ تاجیک کورنیو وګړي لري. (امام شریف)
**جزا: جزه:** ۵۶ – ۳۶، ۸ – ۶۶ (ج): دا د آقچې په ولسوالۍ کې یو کلی دی چې د نهرِ سید آباد پر غاړه واقع دی او د عربانو ۵۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (ای. بي. سي.)
**جزدِه:** ۵۶ – ۳۶، ۱۱ – ۶۶: دا د ۶۰ عرب کورونو یو کلی دی او د هغهٔ سړک پر غاړه واقع دی چې المالیق ته منتهي کیږي او له آقچې څخه د ۱۲/۱ ۱ مایل په واټن لیرې دی. (ای. بي. سي.)
* **جوی جدید:** [په کتاب کې په عربي الفبا جای جدید لیکل سوی حال دای په انګلیسي الفبا جوی جدید لیکل سوی – ژ]: ۱۲- ۳۷، ۳۴ – ۶۷ (ن): دا د آمو د سیند پر غاړه د کلدار د لویدیځ په ۸ مایلۍ کې یو کلی دی.

**جوزجان:** ۰ – ۳۶ ، ۰ – ۶۶: جوزجان د افغانستان شمال مرکز کې یو ولایت دی چې شمال کې له شوروي اتحاد سره سرحد لري ختیځ کې د بلخ، سویل کې د سمنگان او بامیان او غور او په ختیځ کې د فاریاب له ولایتونو سره کرښه لري. دا ولایت ۲۶۲۲۶ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمیر ئې له ۱۹۸۳۲۴ څخه تر ۲۱۱۱۳۳ تنو پورې اټکل سوی دی.
د جوزجان ولایت په ۶ ولسوالیو او ۶ علاقه داریو ویشل سوی چې په لاندې ډول دي: -

| | | | |
|---|---|---|---|
| آقچه | سرپُـل | سنگچارک | قرقین |
| مینگه جیک | شبرغان – او | بلخآب | - خانقاه |
| خمیآب | فیض آباد | کوهستانات او - | مُـردیان |

د دې ولایت اساسي غرونه د سرپل غرنۍ لړۍ ده. د ولایت عمده سیندونه دریای سیاه او دریای آبِ سفید دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د دې ولایت اقتصاد عمدتاً د غالیو په اوبدلو، د قره قل په سیرلیو، مالخرونو او د طبیعي ګازو په تولید پورې تړلی دی.
د دې ولایت عمده ورځپاڼه «دیوه» نومیږي. دا ورځپاڼه هره ورځ چاپیږي او په دري ژبې خپرونې لري.
د دې ولایت د کروندګرو وګړو، تر کښت لاندې د ځمکو، مالداری په هکله د لا نورو معلوماتو لپاره وګورئ: راتلونکو پاڼو کې شپږ جدولونه.

* **جوزجان**: وګورئ: جوزجان

**جوی خوش بره**: ـ ۳۶، ـ ۶۸: دا د کابل – مزارشریف د سړک پر غاړې د ایبک د شمال په ۱۳ مایلۍ کې د دمې نیولو ځای دی. (جو) په خپله د اوبولګولو یو نهر دی چې د خوش بره دښته خړوبوي او همدلته د نهر له سره یو پل تیر سوی دی چې عملاً ډیر لږ د تګ دی. د خوش بره دښته کرل سوې او د لرخابي تاجیکانو ۱۰۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (اې. بي. سي.)

**جوی زندان**: ۱۷ – ۳۶، ۵۹ – ۶۷ (ن): دا د تاشقرغان د سیند پر کینې غاړې له ایبک ۳ مایله لیرې شمال لویدیځ کې یو کلی دی. دې کلي کې وزبیکان او تاجیکان اوسیږي. (اې. بي. سي.)

* **جوک ها: جَک ها**: ۲۰ – ۳۶، ۵۶ – ۶۴ (ن) دا په شیرین تګاو کې د رحمت آباد د شمال په ۳ مایلۍ کې یو کلی دی.

**کبک:** وګورئ: لدارتي

* **کبوتاو**: (کبوت اَو – ژ؟): (کبود آب؟ - ژ): ۴۴ – ۳۵، ۲۲ – ۶۶ (ن): دا د آبِ کلان پر غاړه د اُشترګردن د لویدیځ په ۲ مایلۍ کې او د سنګچارک په سویل کې یو کلی دی.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| د کښت ګرو وګړو د شمیر او تر کښت لاندې د ځمکې اټکل | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالی | کلي | کښت ګر وګړي | ځمکوال | تر کښت لاندې ځمکه په جریب | | | تر کښت لاندې ځمکه په هکتار | | |
| | | | | خړوبه | لمي | ټولټال | خړوبه | لمي | ټولټال |
| آقچه | ۱۱ | ۷۳۸۰ | ۱۲۰۰ | ۷۱۵۱۰ | _ | ۷۱۵۱۰ | ۱۴۳۰۲ | _ | ۱۴۳۰۲ |
| سرپل | ۱۰۲ | ۷۹۸۴۰ | ۹۸۰۰ | ۵۲۴۶۰ | ۱۷۶۵۱۰ | ۲۲۸۵۱۰ | ۱۰۴۹۰ | ۳۵۲۱۰ | ۴۵۷۰۲ |
| سنګ چارک | ۷۵ | ۶۵۵۱۰ | ۸۴۹۰ | ۵۲۱۸۰ | ۲۲۸۱۷۰ | ۲۸۰۳۵۰ | ۱۰۴۳۶ | ۴۵۶۳۴ | ۵۶۰۷۰ |
| قرقین | ۶ | ۷۳۳۰ | ۸۶۰ | ۶۳۱۰ | _ | ۶۳۱۰ | ۱۲۶۲ | _ | ۱۲۶۲ |
| مِنگه چک | ۳۰ | ۱۵۴۸۰ | ۳۴۲۰ | ۲۲۵۶۹۰ | _ | ۲۲۵۶۹۰ | ۴۵۱۳۸ | _ | ۴۵۱۳۸ |
| بلخاب | ۲۱ | ۹۲۶۰ | ۱۵۵۰ | ۲۱۶۳۰ | ۱۲۵۸۰ | ۳۴۲۱۰ | ۴۳۲۶ | ۲۵۱۶ | ۶۴۸۲ |
| خانقاه | ۳۱ | ۱۳۳۸۰ | ۴۵۵۰ | ۶۵۲۹۰ | ۷۷۲۰ | ۷۳۰۱۰ | ۱۳۰۵۸ | ۱۵۴۴ | ۱۴۶۰۲ |
| خمیاب | ۳ | ۵۵۰۰ | ۱۱۰ | ۲۰۱۰ | _ | ۲۰۱۰ | ۴۰۲ | _ | ۴۰۲ |
| فیض آباد | ۲۳ | ۱۵۷۳۰ | ۲۳۹۰ | ۵۷۴۲۰ | ۱۷۵۰ | ۵۹۱۷۰ | ۱۱۴۸۴ | ۳۵۰ | ۱۱۸۳۴ |
| کوهستانات | ۴۵ | ۱۶۴۲۰ | ۲۷۸۰ | ۲۳۰۳۰ | ۶۴۵۱۰ | ۸۷۵۴۰ | ۴۶۰۶ | ۱۲۹۰۲ | ۱۷۵۰۸ |
| مردیان | ۲۱ | ۱۵۵۹۰ | ۱۲۰۰ | ۷۱۱۸۰ | ۷۲۹۰ | ۷۸۴۷۰ | ۱۴۲۳۶ | ۱۴۵۸ | ۱۵۶۹۴ |
| شبرغان | ۸۰ | ۳۹۱۴۰ | ۵۵۰۰ | ۲۷۴۲۹۰ | ۶۵۰ | ۲۷۴۹۴۰ | ۵۴۸۵۸ | ۱۳۰ | ۵۴۹۸۸ |
| ټولټال | ۴۴۸ | | ۴۱۸۵۰ | ۹۲۳۰۰۰ | ۴۹۸۷۲۰ | ۱۴۲۱۷۲۰ | ۱۸۴۶۰۰ | ۹۹۷۴۴ | ۲۸۴۳۴۴ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| خړوبه ځمکه او د اوبو لګولو سرچینه | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالی | ساحه په جریب | | | | ټولټال | د سرچینو شمیر | | | | د اوبو ژرندې |
| | نهرونه | چینې | کاریز | څاه ګانې | | نهرونه | چینې | کاریزونه | څاه ګانې | |
| آقچه | ۷۱۴۵۰ | – | – | ۶۰ | ۷۱۵۱۰ | ۱۱ | – | – | ۵۳ | ۴ |
| سرپل | ۵۰۸۱۰ | ۱۵۰۰ | ۱۰۰ | ۵۰ | ۵۲۴۶۰ | ۷۱ | ۱۰ | ۲ | ۴۷ | ۱۲۸ |
| سنګ چارک | ۴۹۵۳۰ | ۲۶۰۰ | – | ۵۰ | ۵۲۱۸۰ | ۵۷ | ۳۱ | – | ۴۵ | ۱۲۱ |
| قرقین | ۶۲۸۰ | – | – | ۳۰ | ۶۳۱۰ | ۱۴ | – | – | ۳۵ | – |
| منګه چک | ۲۲۵۶۴۰ | – | – | ۵۰ | ۲۲۵۶۹۰ | ۳۰ | – | – | ۴۲ | – |
| بلخاب | ۱۸۸۳۰ | ۲۸۰۰ | – | – | ۲۱۶۳۰ | ۱۲ | ۱۷ | – | – | ۹۴ |
| خانقاه | ۶۵۲۵۰ | – | – | ۴۰ | ۶۵۲۹۰ | ۲۸ | – | – | ۳۰ | – |
| خمیاب | ۱۹۶۰ | – | – | ۵۰ | ۲۰۱۰ | ۳ | – | – | ۵۰ | – |
| فیض آباد | ۵۷۳۹۰ | – | – | ۳۰ | ۵۷۴۲۰ | ۲۲ | – | – | ۲۰ | ۳۲ |
| کوهستانات | ۱۹۶۶۰ | ۳۳۲۰ | – | ۵۰ | ۲۳۰۳۰ | ۴۵ | ۲۸ | – | ۳۵ | ۳۸ |
| مردیان | ۷۱۱۵۰ | – | – | ۳۰ | ۷۱۱۸۰ | ۱۹ | – | – | ۳۰ | – |
| شبرغان | ۲۷۴۱۳۰ | ۱۰۰ | – | ۶۰ | ۲۷۴۲۹۰ | ۷۰ | ۱ | – | ۵۶ | ۵۸ |
| ټولټال | ۹۱۲۰۸۰ | ۱۰۳۲۰ | ۱۰۰ | ۵۰۰ | ۹۲۳۰۰۰ | ۳۸۲ | ۸۷ | ۲ | ۴۴۳ | ۴۷۵ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| د کرنیزو محصولات حاصل په کابلي سیر | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالی | غلات | | ټولټال | نور حاصلات | | | |
| | خړوبه ځمکه | لمه ځمکه | | ترکاري باب | صنعتي محصولات | نو مؤقت محصولات | میوه باب |
| آقچه | ۲۷۶۴۸۰۰ | _ | ۲۷۶۴۸۰۰ | ۲۴۹۴۸۰ | ۱۰۴۱۰۰ | ۴۹۳۵۰۰ | ۳۴۶۰۸۰ |
| سرپل | ۲۰۲۸۴۸۰ | ۱۸۴۹۴۷۰ | ۳۸۷۷۹۵۰ | ۷۵۰۳۳۰ | ۷۸۰۰۰ | ۳۹۹۰۰۰ | ۳۶۱۲۰۰ |
| سنګ چارک | ۲۰۰۴۴۸۰ | ۲۳۹۵۶۸۰ | ۴۴۰۰۱۶۰ | _ | ۲۶۱۰۰ | ۸۲۱۱۰۰ | ۸۶۵۲۰۰ |
| قرقین | ۲۴۱۹۲۰ | _ | ۲۴۱۹۲۰ | _ | ۱۲۹۰۰ | _ | ۵۷۱۲۰ |
| منګه چک | ۸۹۵۴۸۸۰ | _ | ۸۹۵۴۸۸۰ | _ | ۸۲۸۶۰۰ | _ | ۱۰۹۵۳۶۰ |
| بلخاب | ۹۲۵۴۴۰ | ۱۳۲۰۹۰ | ۱۰۵۷۵۳۰ | _ | _ | ۳۰۲۴۰۰ | ۳۳۷۶۸۰ |
| خلقاه | ۲۶۹۹۵۲۰ | ۸۱۰۶۰ | ۲۷۸۰۵۸۰ | ۳۷۴۲۲۰ | ۱۶۹۲۰۰ | ۱۱۱۳۰۰ | ۱۷۳۰۴۰ |
| خمیاب | ۶۲۴۰۰ | _ | ۶۲۴۰۰ | ۷۵۶۰ | ۶۶۰۰ | _ | ۲۸۵۶۰ |
| فیض آباد | ۲۳۰۰۱۶۰ | ۱۸۲۷۰ | ۲۳۱۸۴۳۰ | _ | ۵۲۲۰۰ | _ | ۳۴۲۷۲۰ |
| کوهستانات | ۸۸۵۱۲۰ | ۶۷۷۴۶۰ | ۱۵۶۲۵۸۰ | ۲۵۷۰۴۰ | ۳۹۰۰۰ | ۱۱۹۷۰۰ | ۲۳۰۱۶۰ |
| مردیان | ۲۷۳۴۰۸۰ | ۷۶۴۴۰ | ۲۸۱۰۵۲۰ | _ | ۲۳۴۳۰۰ | _ | ۲۳۵۲۰۰ |
| شبرغان | ۱۰۶۲۹۱۲۰ | ۶۹۳۰ | ۱۰۶۳۶۰۵۰ | ۱۲۳۶۰۶۰ | ۲۸۶۵۰۰ | ۲۳۶۰۴۰۰ | ۱۲۳۶۴۸۰ |
| ټولټال | ۳۶۲۳۰۴۰۰ | ۵۲۳۷۴۰۰ | ۴۱۴۶۷۸۰۰ | ۲۸۷۴۶۹۰ | ۱۸۳۷۵۰۰ | ۴۶۰۷۴۰۰ | ۵۳۰۸۸۰۰ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| د کښت وړ ځمکې ټولټال – په کابلي جريب | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالی | هغه ځمکه چې يو کال په منځ کې کرل کيږي | تر کښت لاندې ځمکه | ځنګلونه | پووندې | ټولټال |
| آقچه | ۱۴۳۰۰ | ۷۱۵۱۰ | _ | ۱۹۴۰۹۰ | ۲۶۵۶۰۰ |
| سرپل | ۹۸۵۶۰ | ۲۲۸۵۱۰ | ۲۳۱۴۰ | ۴۰۶۵۲۰ | ۶۵۸۱۷۰ |
| سنګ چارک | ۱۲۴۵۲۰ | ۲۸۰۳۵۰ | ۴۲۹۶۰ | ۵۰۷۰۱۰ | ۸۳۰۳۲۰ |
| قرقين | ۱۲۶۰ | ۶۳۱۰ | _ | ۱۷۸۰۱۰ | ۱۸۴۳۲۰ |
| مِنګه چک | ۴۵۱۴۰ | ۲۲۵۶۹۰ | _ | ۳۵۷۴۷۰ | ۵۸۳۱۶۰ |
| بلخاب | ۱۰۶۱۰ | ۳۴۱۲۰ | ۲۴۶۰۰ | ۱۵۸۰۵۰ | ۲۱۶۸۶۰ |
| خانقاه | ۱۶۹۲۰ | ۷۳۰۱۰ | _ | ۲۷۲۷۰۰ | ۳۴۵۷۱۰ |
| خمياب | ۴۰۰ | ۲۰۱۰ | _ | ۱۳۴۵۰۰ | ۱۳۶۵۱۰ |
| فيض آباد | ۱۲۳۵۰ | ۵۹۱۷۰ | _ | ۲۱۲۱۵۰ | ۲۷۱۳۲۰ |
| کوهستانات | ۳۶۸۷۰ | ۸۷۵۴۰ | ۵۲۸۰۰ | ۲۰۹۳۰۰ | ۳۴۹۶۴۰ |
| مرديان | ۱۷۸۸۰ | ۷۸۴۷۰ | _ | ۱۴۱۱۰۰ | ۲۱۹۵۷۰ |
| شبرغان | ۵۵۱۹۰ | ۲۷۴۹۴۰ | _ | ۳۲۱۱۰۰ | ۵۹۶۰۴۰ |
| ټولټال | ۴۳۴۰۰۰ | ۱۴۲۱۷۲۰ | ۱۴۳۵۰۰ | ۳۰۹۲۰۰۰ | ۴۶۵۷۲۲۰ |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

| د کښت وړ ځمکې ټولټال د حاصل پر بنسټ – په کابلي جریب | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالی | غلات | | ټولټال | ترکاري باب | صنعتي حاصلات | نور حاصلات | میوه باب | د کښت وړ ځمکې ټولټال |
| | خړوبه | لمه | | | | | | |
| آقچه | ۵۷۶۰۰ | – | ۵۷۶۰۰ | ۱۳۲۰ | ۳۴۷۰ | ۲۳۵۰ | ۲۰۶۰ | ۶۶۸۰۰ |
| سرپل | ۴۲۲۶۰ | ۸۸۰۷۰ | ۱۳۰۳۳۰ | ۳۹۷۰ | ۲۶۰۰ | ۱۹۰۰ | ۲۱۵۰ | ۱۴۰۹۵۰ |
| سنګ چارک | ۴۱۷۶۰ | ۱۱۴۰۸۰ | ۱۵۵۸۴۰ | — | ۸۷۰ | ۳۹۱۰ | ۵۱۵۰ | ۱۶۵۷۷۰ |
| قرقین | ۵۰۴۰ | — | ۵۰۴۰ | — | ۴۳۰ | — | ۳۴۰ | ۵۸۱۰ |
| ښګه چک | ۱۸۶۵۶۰ | – | ۱۸۶۵۶۰ | — | ۲۷۶۲۰ | — | ۶۵۲۰ | ۲۲۰۷۰۰ |
| بلخاب | ۱۹۲۸۰ | ۶۲۹۰ | ۲۵۵۷۰ | — | — | ۱۴۴۰ | ۲۰۱۰ | ۲۹۰۲۰ |
| خانقاه | ۵۶۲۴۰ | ۳۸۶۰ | ۶۰۱۰۰ | ۱۹۸۰ | ۵۶۴۰ | ۵۳۰ | ۱۰۳۰ | ۶۹۲۸۰ |
| خمیاب | ۱۳۰۰ | – | ۱۳۰۰ | ۴۰ | ۲۲۰ | — | ۱۷۰ | ۱۷۳۰ |
| فیض آباد | ۴۷۹۲۰ | ۸۷۰ | ۴۸۷۹۰ | – | ۱۷۴۰ | — | ۲۰۴۰ | ۵۲۵۷۰ |
| کوهستانات | ۱۸۴۴۰ | ۳۲۲۶۰ | ۵۰۷۰۰ | ۱۳۶۰ | ۱۳۰۰ | ۵۷۰ | ۱۳۷۰ | ۵۵۳۰۰ |
| مردیان | ۵۶۹۶۰ | ۳۶۴۰ | ۶۰۶۰۰ | – | ۷۸۱۰ | — | ۱۴۰۰ | ۶۹۸۱۰ |
| شبرغان | ۲۲۱۴۴۰ | ۳۳۰ | ۲۲۱۷۷۰ | ۶۵۴۰ | ۹۵۵۰ | ۱۱۲۴۰ | ۷۳۶۰ | ۲۵۶۴۶۰ |
| ټولټال | ۷۵۴۸۰۰ | ۲۴۹۴۰۰ | ۱۰۰۴۲۰۰ | ۱۵۲۱۰ | ۶۱۲۵۰ | ۲۱۹۴۰ | ۳۱۶۰۰ | ۱۱۳۴۲۰۰ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| د مالداری او چرګانو احصائیوي اټکل د ولسوالی او علاقه داری پر بنسټ | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالی | پسونه | فره قل پسونه | وزې | کورنۍ څاروي | مېښې | اوښان | آسونه | خرونه | کچرې | چرګان |
| آقچه | ۴۵۰ | ۲۰۸۳۵۰ | ۲۲۴۰ | ۱۳۵۰۰ | — | ۱۴۰ | ۱۶۷۰ | ۱۱۲۰ | — | ۱۷۰۵۰ |
| سرپل | ۳۴۷۴۰ | ۴۷۹۳۲۰ | ۳۷۲۰۰ | ۳۱۲۱۰ | — | ۱۸۶۰ | ۴۶۹۰ | ۲۰۴۳۰ | — | ۹۰۴۳۰ |
| سنګ چارک | ۳۴۶۳۰ | ۳۸۸۰۸۰ | ۲۴۷۰۰ | ۳۹۹۶۰ | — | ۸۵۰ | ۵۳۶۰ | ۱۸۰۹۰ | — | ۶۰۵۳۰ |
| قرقین | ۲۵۰۰ | ۶۲۰۰۰ | ۲۵۰۰ | ۱۹۲۰ | — | ۱۴۰ | ۳۶۷۰ | ۱۳۱۰ | — | ۳۶۹۰ |
| مِنګه چک | ۳۹۷۳۰ | ۳۷۵۲۳۰ | ۵۰۹۰ | ۱۹۸۰۰ | — | ۵۷۰ | ۱۱۷۲۰ | ۴۳۳۰ | — | ۶۰۶۴۰ |
| باغڼاب | ۸۷۹۰۰۰ | ۵۷۵۰۰ | ۷۰۵۰ | ۳۱۵۷۰ | — | ۱۰ | ۱۶۷۰ | ۸۵۰ | — | ۱۰۴۱۰ |
| خانقاه | ۳۳۲۹۰ | ۳۱۰۳۰۰ | ۹۲۲۰ | ۹۷۵۰ | — | ۸۵۰ | ۱۶۹۰ | ۷۰۳۰ | — | ۴۰۲۸۰ |
| خمیاب | ۱۰۰۰ | ۷۳۰۰۰ | ۶۰۰ | ۲۸۰۰ | — | ۶۰ | ۱۱۲۰ | ۳۲۰ | — | ۲۰۰۰ |
| فیض آباد | ۳۷۸۸۰ | ۲۳۴۰۰۰ | ۶۷۶۰ | ۱۶۱۹۰ | — | ۱۰۲۰ | ۱۴۰۷۰ | ۴۸۲۰ | — | ۳۹۰۰۰ |
| کوهستانات | ۳۶۱۸۰ | ۱۲۵۷۶۰ | ۷۳۸۰ | ۱۰۳۷۰ | — | ۱۴۰ | ۴۶۹۰ | ۱۴۰۰ | — | ۳۵۳۱۰ |
| مردیان | ۲۳۴۹۰ | ۸۹۰۴۰ | ۷۵۷۰ | ۱۶۳۵۰ | — | ۱۰۰۰ | ۲۰۱۰ | ۶۸۰۰ | — | ۱۹۰۹۰ |
| شبرغان | ۱۳۹۴۰ | ۲۹۰۸۶۰ | ۲۴۸۱۰ | ۴۹۳۲۰ | — | ۱۷۰۰ | ۱۱۰۶۰ | ۱۰۵۱۰ | — | ۷۱۱۵۰ |
| تولتال | ۳۴۵۷۳۰ | ۲۶۹۳۴۴۰ | ۱۳۵۱۲۰ | ۲۲۴۷۴۰ | — | ۸۳۴۰ | ۶۳۴۲۰ | ۷۷۰۱۰ | — | ۴۴۸۵۸۰ |

**کبوچي**: ۱۱ – ۳۵، ۳۸ – ۶۷ : لوړوالی: ۸۶۴۰ فیټه. دا یو کوتل دی چې د کابل – مزارشریف د عمومي سړک په اوږدو کې راځي، دا سړک د سیغان له درې څخه د دشتِ ګزک لوړې سطحې ته ورځیږي. دې لوړې سطحې ته د ختلو د لارې اوږدوالی ۱ ۲/۱ مایل دی. لاره ئـې نا هموار او ځینو ځایونو کې سخته ده د ختلو د سختوالي درجه ئـې له ۱په ۸ او ۱ په ۵ کې ده. د غرۀ ډډې په اکثریتو ځایونو کې خاورین ستوغ ځایونه لري چې د سړک د جوړولو لپاره کومه سختي نـۀ لري. وګورئ: دندان شکن


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**کبوت**: وګورئ: خواجه جه
* **قبرغه:** ۲۸ ـ ۳۶، ۳۵ ـ ۶۶ (ن): دا په یوۀ تنګي کې یو کلی دی، دا تنګی د چادر تپې د شمال په تقریباً ۲ مایلۍ کې د بلخ د سیند پر لور ځغلیدلی دی.
**کچان**: ۵۰ ـ ۳۵، ۵ ـ ۶۶ (ن): دا د سرپل یوه علاقه داري ده چې د کچان د درې په سر کې یو منځغری او یو بستر لري او د بندِ تورکستان تر شمالي ډډو لاندې واقع دی. ویل سوي چې کچان د هزاره ګانو تقریباً ۷۰۰ کورنۍ لري او اکثریت ئـې شاهي (ینګـُر دای زنګی؟)، سپاهي (دای زنګي؟) او فولادي دي.
د دولت یار ـ ایسفي میدان ـ سرپل لارې له همدې علاقې څخه په تقاطع تیریږي او همدا شان یوه بله لاره له همدې ځایه چیراس ته تللې ده.
دا دره له سَوزمه قلعې څخه تقریباً ۸ یا ۹ مایله پورته د تقریباً ۲۰ یاردو په ارتوالي په یوۀ منځغري بدلیږي. او ورپسې په تدریج یو ځل بیا په خانقاه کې له سَوزمه قلعه څخه نیولې د ۲/۱ ۱۶ مایلو په واټن لوییږي، تنګی تقریباً د مایل د ۴/۳ برخې ارت دی.
ویل سوي چې د درې دا برخه د جوی باري په نامـۀ یادیږي او د سنګچارک برخه ده. له تنګي پورته قرم دره له سویل ختیځ لورې پر دې درې ورننوځي. د کچان علاقه داري له سوزمه قلعې ۲/۱ ۱۸ مایله پورته او د اختیار له کوچني کلي ۱ مایل کښته پیل کیږي.
له اختیار پورته د ۱۰۰ یاردو په ارتوالي یو ژور تنګی دی چې په دواړو خواوو کې ئـې عموداي ګړنګونه ولاړ دی. د تنګي له مرکز څخه سیند بهیږي چې د اوبو د بهیدو بهیر ئـې توند غرنی بهیر دی او په بستر کې ئـې تخته سنګې پرتې دي. په دِۀ میانه کې چې له اختیار څخه ۶ مایله پورته دی، ګړنګونه ښې او کیڼ لاس ته شا ته ځي او د (کوۀ نو) «په لویدیځ کې» او د (کوۀ اوچې) «په ختیځ کې» سویلي ګړنګونه جوړوي. دا دواړه غرونه ډیر لوړ دی. (کوۀ نو) له ۷۰۰۰ فیټو لوړ دی. له «دِۀ میانه» څخه تر «بای» چې ۷ مایله لاره ده، دره زښته ډیره ښکلې ده، مخ خلاصې ده، تکه شنه کم عمقه او ونې لري. «بای» په خپله د ۱۰۰ وزبیک کورنیو یو لوی کلی دی چې پټې او د میوو ونې لري. د کچان له سیند ۳ مایله پورته د قلاتک په نامـۀ کلی هم همداسې یو کلی دی خو کوچنی دی.
له «بای» پورته، دا دره مخ خلاصې او تکه شنه ده خو ونې نـۀ لري. د درې په لویدیځې خوا کې ستوغې ډبرې دي او سر ته ئـې د ختلو آسانه لاره سته او همدا لاره د «کوۀ صاف» په سویل کې یوې لوړې سطحې ته ورغلې ده.
له سَوزمه قلعه ۴/۱ ۱ مایل پورته د درې مخه د سنګچارک د سیند پر لور خلاصیږي. (میتلند، امام شریف) *همدا شان په همدې نامـۀ یو سیند په ۶ ـ ۳۶، ۱۱ ـ ۶۶ (الف) کې واقع دی.*
**کچان**: ۱۳ ـ ۳۶، ۳ ـ ۶۸: دا یوه دره ده چې د اوبو د ډوبیدلو حوضه ئـې لویدیځ کې د ابیک په درې کې ده. دا لاره ۲ مایله لیرې مخکې له دې چې د بابه قمبر له لارې ایبکو ته ورسیږي له یوۀ کوتل څخه چې د کچان په نامـۀ یادیږي تیریږي او د کچان پر درې ورکوزیږي. دا لاره د ۲۰۰ یاردو لپاره د درندو پوځي وسایطو د وړلو لپاره غیر عملي ده مګر دا چې کار وربانديِ وسي او سمه سي او همدا شان په مرطوبې هوا کې د اوښانو د تګ لپاره هم ښویه ده. د کوتل په بیخ یا لمن کې دره ۴۰۰ یاردِه ارته ده؛ دلته لږ کرهنه هم سوې او څو کوچني کلي هم سته؛ د درې له لمنې څخه ۲/۱ ۱ مایل لیرې دره د ایبکو د درې پر لور له ښارګوټي او کلا څخه ئـې لږ پورته، مخ خلاصې کیږي . (ای. بي. سي.)
**کدو خانه**: ـ ۳۶، ـ ۶۶: دا د نهرِ اصفهان پر غاړې ظاهراً د بلخ د شمال ختیځ په څو مایلۍ کې یو کلی دی چې د وزبیکانو ۲۰ کورنۍ او د تاجیکانو ۳۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. خو پیکاک وایي چې په دې نامـۀ کلی له مُشخور څخه تر چیلیک پورې پر لارې چې د بلخ په شمال لویدیځ کې ده، واقع دی. (ای. بي. سي.)
**کافر کلا (قلعه)**: ۲۰ ـ ۳۶، ۱۳ ـ ۶۷: لوړوالی: ۸۶۰۳ فیټه. دا یو کوتل دی چې د شادیانو په سویل کې د لوړو عمودي ګړنګونو له پاسه واقع ده او له شاه انجیرک څخه تر بابه قمچي پورې د لارې یوه څانګه وربانديِ تیریږي.
که له سویل لوري ورته راسئ نو کوتل ته د ختلو لاره له شاه انجیرک څخه په تقریباً ۲/۱ ۴ مایلۍ کې پیل کیږي؛ د ختلو د لارې اوږد والی کیدای سي ۲/۱ ۱ مایل اټکل کړو. د لارې دا برخه ظاهراً د آس سپرو د تګ لپاره عملي ښکاري، خو په دې کې شک دی چې بار وړونکي څاروي دې وربانديِ وختلی سي. په ۱۸۸۶ز کال کې میتلند دا لاره د کوتل له سره شمال لور ته څیړلې ده او له دې کبله دا معلومات ډاډمن دي. کیڼ لور ته د کافر قلعې دنګ ګړنګونه سرونه راپورته کوي. د غرۀ څوکه په خپله یوه بې قاعده لوړه سطحه ده چې په منځ کې ئـې د لرغوني کلا پاتې شوني خوارۀ وارۀ پراتـۀ دي او دې ځای له همدې کبله دا نوم اخیستی دی. دا ځای کیدای سي د لارو د موندو لپاره د نښې په توګه جوړ سوی وي ځکه د برید د څرګندولو نښـۀ ئـې له شمال، لویدیځ او سویل څخه د مایلونو مایلونو په اوږدوالـۀ له لیرې ځایه ښکاري. د دې لوړې سطحې له څنډې څخه لاره شمال ختیځ ته پر مخ ځي او د ۶۰۰ یا ۷۰۰ یاردو په اوږد والی د کوزیدلو یوه کږه ډډه جوړوي او مخ په یوې ژورې درې کښته ځي ؛ دا دره مخ پر سویل تللې ده.
له کوتل څخه له مایل څخه په لږ واټن کې د کافر قلعې د اوبو چینه ده، د اوبو دا چینه نیمایي ئـې په بوټو ډکه ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چشمـهٔ میدانک ته د رسیدو لپاره لومړی د ختلو یوه لنډه لاره ده چې ورپسې چشمـهٔ میدانک په نرمه ته ورکوزه سوې ده او همدلته د مهتر هابیل د کوټل له لارې له شاه انجیر څخه تر ارغائـیل کوټل پورې لاره ننوځي.
(بابه قمچي ته تللي) لار په لومړیو کې ډیره ښه ده چې تر ۵۰۰ یاردو پورې سختوالی نـهٔ لري. له دې وروسته د څو یاردو لپاره لاره ډبرینه ګرځي او د ۲۰۰ یاردو لپاره لاره ډیره سر ځوړې کیږي. تر دې لاندې له ۱۵۰ تر ۲۰۰ یاردو پورې لاره سخته، ناهمواره او مارپیچه کیږي. له دې ځایه کښته اړینه ده چې د څارویو د اوړو له سرونو بار کوز کړئ چې وکولای سي کښته لاړ سي. دا په ځانګړې توګه د کوټل په بیخ کې داسې پیښیږي چې د کښته کیدلو لاره له هماغه ټکي نیولې د لارې تر سطحې پورې لوړوالی ۶۶۵ فیټه دی او دا تر نیم مایل پورې همداسې ده، د ۸۰۰ فیټو په لوړوالي د لوړې سطحې له سره د کښته کیدلو د لارې ټول اوږدوالی د مایل ۴/۳ برخه ده.
دا لاره ورپسې د «پوګ بر» پر درې باندې ورکوزیږي او په پای کې له یوه هموار غزني مهمیز څخه تیریږي او خپله مخه د قمچي تنګې اوږدې درې ته اړوي او هماغلته د بابه قمچي په کلي کې له عمومي لارې سره یوځای کیږي. (اې. بي. سي.)
**کافر قلعه**: ۱۲- ۳۶ – ۵۲ – ۶۴ (ن): په شیرین تګاو کې د خیر آباد د سویل په ۱۰ مایلی کې د یوې ستري غونډۍ پر سر له خښتو د جوړو دیوالونو نښې ښکاري. دې ځای ته نیږې د «جنقره وزبیکانو» ۹۰ کورنۍ استوګنې دي. (پیکاک)
*اوسنۍ نقشې د فیض آباد په سویل کې د اسلام قلعه په نامـهٔ یو کلی ښیي.*
**کفیلان دره: کفلان**: ۴۹ – ۳۵، ۲۲ – ۶۴: دا هغه دره ده چې د میمنې – چهارشمبې د لارې پر غاړې د نارین په کلي کې د نارین په تنګي ننوځي. دا تنګی ډیر اوږد نـهٔ دی او د اوب یلوونکي په توګه له دومره لیرې له تقریباً سویل څخه نـهٔ راځي. دا دره یو سیند لري خو باور مو دا دی چې هر مهال د کال ورځخه پورې غاړې اوښتل شوني دي. ویل سوي چې دې درې کې ډیرې ونې سته او د خوکانو او هوسیو د اوسیدلو لپاره نامتو ځای دی. د دې درې په سر کې د خواجه سنګدار په نامـهٔ یو ځای دی. (میتلند) افغان ګزیتر د *کفیلان دره د میمنې د سویل په ۲۵ مایلی کې په ۳۷ – ۳۵، ۵۱ ۰ ۶۴ (ج) کې ښیي.*
* **کفیلان دره**: ۳۱ – ۳۶، ۵۸ – ۶۶ (ن): دا د بلخ روډ پر غاړه د بلخ په سویل کې بوینقرې ته د تللې لارې په اوږدو کې یو کلی دی.
**قـفـلاتون**: ۳ – ۳۶، ۴۹ – ۶۵ (ن): دا د تاجیکانو یو کوچنی کلی دی چې له سرپل څخه تقریباً ۱۵ یا ۱۶ مایله لیرې د هغې لارې پر سر واقع دی چې د میرزا ولنګ کوټل ته ځي.
**کفلـیـزَک**: ۲۵ – ۳۵، ۱۴ – ۶۸ : دا یوه دره ده چې له تاله څخه تقریباً ۲ مایله پورته له شمال لویدیځ لوري د سرخاب پر درې ورننوځي. له دې درې څخه سرخ قلعه ته یوه لارې تللې ده. (اې. بي. سي.)
**کفتر خانه**: کفتار: ۵۱ – ۳۵، ۱۸ – ۶۴ (ن): لوړوالی: ۲۴۲۰ فیټه. دا د نارین د شمال لویدیځ په ۸ مایلی کې د قیصار په درې کې یو متروک کلی دی. دا پخوا یو ډیر لوی کلی وو او تقریباً ۵۰ کاله مخکې نور متروک سو، د دې لوی کلي خلک د تورکمنانو د «اله مانونو» په پایله کې اړ سول چې کلی خوشي کړي. (پیکاک)
**کهمرد**: وګورئ: کمرد

نوربیا
# قیصار:

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ